صدقه مال نه کموي، او الله تعالى په بخښنې سره بنده ته نه زياتوي مګر عزت، او هېڅوک د الله تعالى په وړاندې تواضع نه کوي مګر دا چې الله تعالى يې لوړوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «صدقه مال نه کموي، او الله تعالى په بخښنې سره بنده ته نه زياتوي مګر عزت، او هېڅوک د الله تعالى په وړاندې تواضع نه کوي مګر دا چې الله تعالى يې لوړوي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې: صدقه مال نه کموي، بلکي له هغې څخه آفتونه لرې کوي او الله تعالى يې خاوند ته په بدل کې لوى خير ورکوي، نو دا زياتوالى شو، نه کموالى. او د غچ اخستلو او يا رانيولو د توان سره سره بخښنه کول د انسان قوت او عزت زياتوي. او هېڅوک د الله جل جلاله لپاره عاجزي او خاکساري نه کوي؛ نه د چا له وېرې، نه د جوړ جاړې په خاطر او نه د هغه څخه د ګټې په لټه کې، مګر دا چې د هغه اجر به د مرتبې او شرف لوړېدل وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5512

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee